# د افغانستـــــان اســـــلامي امارت
## د ارشـــــاد، حج او اوقافو وزارت
## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
## د ارشــــاد او دعوت آمریت
## د خطبو د تنظيم عمومي مديريت

---

**د جمعې د خطبې لاربښود مؤرخ:۶ /۱۴۴۳/۱۰هجری قمری مطابق ۱۶ /۱۴۰۱/۲هجری شمسی**

## د حـــــج د فريضې اداء کــــــول او مسائل يې

الحمد لله الذي فرض على عباده حجَّ بيته الحرام، وجعله سببًا لرفع الدرجات ومحو الآثام، والصلاة والسلام على سيد الأنام، وخير من طاف بالبيت الحرام، وعلى آله وصحبه البررة الكرام، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى في كتابه المجيد:{وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اليه سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ} آل عمران : ۹۷

وقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- : (مَنْ حَجَّ لِلهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ) صحيح البخاري

**درنو حاضرينو!**

حج د هغو مناسكو څخه عبارت دی چې په مختلفو وختونو، زمانو او اديانو کې اداء شوي او رعايت شوي دي دی او کعبه هغه لومړنی کور دی چې د خلکو ددنيوي او اخروي ګټو لپاره يې تهداب کيښودل شوی دی او هغه لومړنی مرکز دی چې عبادت کوونکي خپل ځان ته را جلبوي.

حج يوه ديني وظيفه ده چې په يو لړ اصولو او بناګانو باندې ولاړه ده او پرته له دغو بناګانو د حج تحقق څخه ممکن نه دی.

حج داسلام يو نړيوال او جهان شموله او څرګنده برنامه ده.

د رمضان المبارک مياشت تيره شوه الله تعالی دې دټولو عبادات او طاعات په خپل دربار کې قبول کړي.

اوس دا دشوال المکرم مياشت ده چې د حج له مياشتو څخه حسابيږي.

ددې مياشت په پيل سره دحج لپاره امادګي شروع کيږي او د چاچې سږکال دحج نوبت وي هغوی د دې مياشت په داخليدو سره دحج لپاره ځان چمتو کوي او دحج اړوند معلومات زده کوي او دحج دسفر لپاره اړيني تياری نيسي.

### د حج لغوي او اصطلاحي تعريف:

حج په لغت کې قصد او ارادې ته وايي.

او په اصطلاح کې د مخصوص ځای د زيارت څخه عبارت دی چې په مخصوص وخت او په مخصوصو افعالو سره ترسره کيږي.(التبيين/ در المختار)

### دحج حکم:

حج د اسلام د دين له ارکانو څخه لوی رکن او داسلام له سترو (شعائرو) نښانو څخه لويه نښه ده.

حج په ټول عمر کې يوځل فرض دی. حج په آزاد او مکلف مسلمان چې دحج مالي او جسمي توان ولري فرض دی.

الله تعالی فرمايي:{وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اليه سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ} آل عمران : ۹۷

**ترجمه:** پر خلکو د الله دا حق (فرض ) دی چې که څوک د هغه کورته د رسيدو وس ولري دهغه حج دې وکړي او که څوک نافرماني وکړي، نو (هغه دې په دې پوه وي) چې الله له ټولو عالميانو څخه بې پروا دی.

په يو بل آيت شريف کې الله تعالی فرمايلي دي: {وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ * لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ * ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ} الحج : ۲۷ – ۲۹

**ژباړه:** او خلکو ته د حج لپاره اعلان وکړه چې هغوی تا ته له هر لرې ځای نه پلي او پر اوښانو سپاره راشي، ترڅو هغو ګټو ته حاضر شي چې دلته د هغو لپاره موجودې دي او په څو ټاکليو ورځو کې پر هغو څارويو باندې د الله – جل جلاله- نوم واخلي چې هغه ورته روزي کړي دي، په خپله يې هم وخورئ اوتنګ لاسو محتاجانو ته يې هم ورکړئ. بيا دې خپل خيري او ګردونه دځانه لري کړي او خپل نذرونه ( واجبات ) دې پوره کړي او د دغه لرغوني کور طواف دې وکړي.

په حديث شريف کې راځي: وعن أَبي هريرة ـ رضي الله عنه ـ ، قَالَ : خَطَبَنَا رسولُ اللهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ ، فَقَالَ : ( أيُّهَا النَّاسُ ، قَدْ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُم الحَجَّ فَحُجُّوا ) رواه مسلم

**ترجمه:** دابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: يوځل رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته خطبه ويله او داسې يې وويل: ای خلکو! بيشکه الله تعالی په تاسو حج فرض کړی دی نو حج وکړئ.

## د حج فضيلت:

حج غوره عمل دی: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ( عن أَبي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم سُئِلَ: أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ فَقَالَ: إِيمانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ: ثُمَّ ماذا قَالَ: الْجِهادُ في سَبيلِ اللهِ قِيلَ: ثُمَّ ماذا قَالَ: حَجٌّ مَبْرورٌ) صحيح البخاري

**ترجمه:** د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت چې درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی؟ پيغمبرعليه السلام ورته وويل: په الله تعالی او دهغه په رسول ايمان درلودل.وويل شو چې بيا کوم عمل غوره دی؟ پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: د الله تعالی په لاره کې جهاد کول غوره دی. بيا وويل شو چې بيا کوم عمل غوره دی؟ پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: قبول شوی حج غوره دی.

په يو بل حديث کې راځي: (عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلاَّ الْجَنَّةُ) متفق عليه

**ترجمه:** دابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسو الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يوه عمره تربلې عمرې پورې د هغه ګناهونو کفاره ده چې ددواړو عمرو ترمنځ وي او دقبول شوي حج( چې په اخلاص سره وي او دپيغمبرعليه السلام په طريقه شوی وي او دحلال مال څخه وي) بل عوض نشته مګر جنت دی.

**۲-حج ګناهونه محوه او له منځه وړي:**

په حديث شريف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: ( مَن حَجَّ هَذَا البَيتَ فَلَم يرفُث وَلَم يفسُق ؛ رَجَعَ كَيومِ وَلَدَتهُ أُمُّهُ). متفق عليه

**ترجمه:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې د الله جل جلاله د دې کور زيارت وکړي او په حج کې د بی حيايی له کارونو اوخبرو څخه ځان وساتي او ګناه ونه کړي داسې به خپل کورته راستنيږي لکه څرنګه چې مور نوی زيږولی وي.

په يو بل حديث کې داسې راځي: وعن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :« تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيْرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ وَالذَّهَبِ وَالفِضَّةِ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إلاَّ الْجَنَّةَ » . رواه الترمذي والنسائي

**ترجمه:** له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : حج او عمره دواړه يو په بل پسې اداء کړئ، ځکه دا دواړه فقر او ګناهونه داسې لرې کوي لکه د پښ (آهنګر) نغری چې د اوسپنې، سرو او سپينو زرو خيری لرې کوي او د مقبول حج ثواب له جنته پرته بل څه نه دی .

په يو بل حديث کې راځي: وعن جابر، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(الحُجَّاجُ وَالعُمَّارُ وَفدُاللهِ ؛ دَعَاهُم فَأَجَابُوهُ، وَسَأَلُوهُ فَأَعطَاهُم). البزار وقال الهيثمي: رجاله ثقات

**ژباړه:** له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: د الله پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل : حج کوونکي او عمره کوونکي د الله تعالی ډله (ميلمانه) دي، الله تعالی هغوی راوغوښتل، نو هغوی يې غوښتنه قبوله کړه او دوی د الله نه دعاوې وغوښتې او الله تعالی د دوی دعاوي قبولې کړې.

**۳- حج ته جهاد ويل شوی دی:**

وعن عائشة رَضِيَ اللهُ عنها ، قَالَت : قُلْتُ : يَا رسول الله ، نَرَى الجِهَادَ أفْضَلَ العَمَلِ ، أفَلاَ نُجَاهِدُ ؟ قَالَ لَا لَكُنَّ أفْضَلُ الجِهَادِ : حَجٌّ مَبْرُورٌ ) البخاري

**ترجمه:** حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه فرمايي ماوويل: ای د الله رسوله! موږ ګورو چې جهاد غوره عمل دی آيا مونږ جهاد ونه کړو. پيغمبر عليه السلام وفرمايل: نه بلکې (ستاسو لپاره) غوره جهاد قبول شوی حج دی.

په بل حديث کې داسې راغلي دي: (عن عَائِشَةُ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا نَخْرُجُ فَنُجَاهِدَ مَعَكَ فَإِنِّي لَا أَرَى عَمَلًا فِي الْقُرْآنِ أَفْضَلَ مِنْ الْجِهَادِ قَالَ لَا وَلَكُنَّ أَحْسَنُ الْجِهَادِ وَأَجْمَلُهُ حَجُّ الْبَيْتِ حَجٌّ مَبْرُورٌ) سنن النسائي

**ترجمه:** د حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايي چې ما رسول الله صلی الله عليه ته وويل: ای د الله رسوله! ايا مونږ له تاسره جهاد ته ونه وزو؟ بيشکه زه په قرآن کريم کې وينم چې جهاد غوره عمل دی.

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: نه بلکې(ستاسولپاره)غوره او ښايسته جهاد دبيت الله شريف قبول شوی حج دی.

حج الله تعالی له ډيرو غوره عملونو څخه ګڼلی دی . د مبرور(قبول شوي) حج بدله جنت دی، مبرور اوقبول شوی حج هغه دی چې د هر ډول ګناه څخه پاک وي.

## د حج ډولونه:

۱- قران – قران هغه حج دی چې حاجي د عمرې او حج نيت يوځای وکړي.
۲- افراد – افراد هغه حج دی چې حاجي يوازې د حج نيت وکړي.
۳- تمتع- تمتع هغه حج دی چې حاجي لومړی د عمرې نيت وکړي وروسته د حج نيت وکړي.

## د حج مناسک:

دحج مناسک د هغو منظمو افعالو او کړنو څخه عبارت دی چې د حج په موسم کې يې حاجي ترسره کوي؛ لکه د کعبې طواف، صفا او مروه ترمنځ سعی، په عرفات کې وقوف ، په مزدلفه کې شپه تيرول، د جمرو ويشتل، د سر ويښته خريل يا لنډول، قرباني کول، چې دغه ټول کارونه هريو خپل ټاکلي وختونه او ځايونه اوټاکلی ترتيب او ټاکلې اندازه لري.

## دحج حکمت او فلسفه:

د اسلام د مبارک دين د يوسترزکن د ادا کولو لپاره د نړۍ د مسلمانانو را غونډيلو موخه اوحکمت د مسلمانانو ترمنځ خپلمنځي تعاون او پيوستون دی.
په پنځه وخته لمانځه، جمعه او د اخترونو په لمانځه کې راغونډيدل کې کڼ حکمتونه شته چې ددې ډول اجتماعاتو څخه يو هم د حج د فريضې د اداء کولو پر وخت راغونډيدل دي چې له اخروي نيک مرغۍ سره سره دنياوی ګټې هم لري.
حج د مسلمانانو دپيژندګلوی لپاره ښه فرصت برابروي او مسلمانان په حج کې يو دبل سره اشنا کيږي او اړيکي ټينګوي.
په حج کې مسلمانان دګردې نړۍ د کونج کونج څخه د مختلفو ژبو، رنګونو او قومونو څخه را ټوليږي ، دا ددې لپاره ښه فرصت دی چې يو بل وپيژني، ديو بل مشکلاتو څخه ځانونه خبر کړي او د مشکلاتو دحل لپاره لارې چارې وسنجوي او د دښمن په مقابل کې دعرفات د ورځې په شان په يوصف کې ديو دبل ترڅنګ ودريږي .
د حج موسم د دې مشورې لپاره غوره فرصت دی چې مسلمانان څرنګه کولای شي ديو بل لاس نيوی وکړي او اسلامي امت ته د ور پيښو مشکلاتوپه هکله د حل لارې چارې ولټوي او په را تلونکي کې د مسلمانانود دښمنانو د هر ډول دسيسومخنيوی وکړي.
همدا راز دحج موسم د مسلمانانولپاره داقتصادي منافعو دتبادلې لپاره ښه موقع ده چې د اسلام مبارک دين مسلمانانوته له همدې موقع نه دګټې اخيستې سپارښتنه او لار ښوونه کړې ده.

حج د نړۍ په هرځای کې د مسلمانانو ديني اخوت تعبيروي او ددوی په خپل منځ کې د مساوات او برابري درس ورکوي او دا چې سپين په تور او تور په سپين فضيلت نه لري او عربي په عجمي او عجمي په عربي فضيلت نه لري مګر په تقوا سره.
حج په ټوله نړۍ کې د اسلامي دعوت دخپريدو لپاره زمينه برابروي.

امام کاساني رح فرمايي: ټول عبادتونه يا دعبوديت داظهارلپاره دي يا دنعمت دشکر لپاره.په حج کې هم دعبوديت اظهار دی او هم دنعمت شکر.
په حج کې اظهار دعبوديت ځکه دی چې په عبوديت کې خپل معبود ته تضرع او عاجزي کول وي او په حج کې هم حاجي خپل معبود ته د تضرع او تذلل اظهار کوي. کله چې حاجي احرام په تن کړي په دې سره خپل ګرد جن حالت او خاکساري ظاهروي او د زينت اسباب له ځانه لرى کوي او دخپل ځان څخه داسې انځور وړاندې کوي لکه هغه غلام چې مالک ورباندې په قهر وي او غلام ورته خپل کمزورى حالت وړاندې کوي د دې لپاره چې مالک ورباندې مهربانه شي او ورباندې ورحميږي او کله چې حاجي په عرفات کې وقوف وکړي دا حالت داسې دی لکه کوم غلام چې د خپل مالک څخه نافرماني کړي وي او د خپل مالک په وړاندې په عاجزى سره په داسې حال کې و دريږي چې د هغه صفت او ستاينه کوي او دخپلو خطاګانو ښښنه غواړي. او دبيت الله څخه دطواف معنا داده چې بنده په هغه ځای کې دريږي چې خپل پرودګار ته منسوب دی لکه هغه غلام چې د خپل مالک په دروازه باندې ولاړ وي او د هغه څخه پناه غوښتونکی وي. او په حج کې دنعمت شکر ځکه پروت دی چې ځيني عبادات بدني دي او ځيني مالي دي او حج هغه عبادت دی چې پرته له بدن او مال څخه نه ترسره کيږي. په دې عبادت کې هم د بدن شکر دی او هم دمال.(بدائع الصنائع)

**اقول قولي هذا استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين.**